مسئولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

عبدالباری جهانی ۲۰۲۳/۰۹/۱۰

# ته یوازی تنها نه یې

## پر ما ګران نورمحمدلاهو ته:

زه ستا سیوری لټومه
ته په خپل سیوري کي ورک یې
ته لاهو په تنهایی کي
او له خپل یوازیتوبه سره ژاړې
ته د ژوند له تنهایی څخه ډارېږې
د دوستانو له بېلتون څخه کړېږې
هسي نه چي یوه ورځ به له خپل سیوري سره ورک سي
هسي نه چي د زمان خزان دي یوسي
ژړي پاڼي به دي یو په یو توییږي
له چیني به دي ساړه سیوري تولیږي
او پر ځای د بلبلکو مرغکیو
او پر ځای د چڼچڼیو توتکیو
ګاونډي به دي زاغان سي
ته به کور سې د تورمخو ځالګیو
کشکي زما او ستا بهار لکه د ونو د شنېلیو
لکه خروښ د شګوفو د پسرلیو
لکه شرنګ پر ګودرونو د پاولیو
لکه ږغ په شنو درو کي د شپېلیو
کال په کال خزانېدلای رژېدلای
کال په کال مو پسرلی بیرته راتللای
شګوفي مو لکه اوښکي د خوښیو
له نسیم سره له څانګو توییدلای
ناخبره له خزانه نښېدلای
شېبه وروسته دی خزان وای
خړي څانګي تور زاغان وای
تونډ بادونه وای توپان وای
انتظار به مو د مو بل بهار کولای
پرښاخونو به مو پېغلي ټالېدلای
شګوفو به اوربلونه نازولای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنیزي بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکي په ځیر و لولئ

زموږ په سیوري کي جامونه کړنګېدلای
خو اسمان دی موږ ته یو بهار ټاکلی
یو خزان یې په تندي کي رالیکلی
د اسمان په خوښه دلته اوسېده دي
یک تنها مو تر نړۍ پوري راتله دي
یک تنها مو تر منزله رسېده دي
په خزان او په بهار کي بیرته تله دي
بې اختیاره له یارانو بېلېده دي
په ټولۍ کي د دوستانو لکه نی غوندی یوازي اوسېده دي
لکه پل غوندي په لار کي پاتېده دي
شېبه وروسته په توند باد کي ورکېده دي.

د ۲۰۲۳ کال د سپټمبر لسمه، ویرجینیا.


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په ځیر و لولـئ